# "The Pivotal Role of Language in human Life"

(In the Perspective of Khushal Baba Poetry)

# "خوږه ژبه او خوشحال"

**Shazia Akber★**

**ABSTRACT:**

Life is full of hazards, commotions, frustrations, despair, futility and lawlessness. The world at large is at war. Man was sent to the world equipped with the requisite physical and mental capabilities to benefit the ailing people and in doing so language has been the most effective vehicle to impart knowledge and awareness and feed effective information to the people to settle both the internal and external disputes among the people amicably, fight against poverty, diseases and social evils and bring peace and tranquility to the people at large.

History is replete with instances that impressive language has been better and more productive deterrent than brute force against social and economic evils. Language has always prevailed to teach sanity to the people where force has failed.

Static knowledge without explicit expression is ineffective to express eloquently what one feels its true scholarship. Khushhal Kattack was a renowned Pashto poet with great scholastic aptitude having both the ability and experience. Having wandering through the labyrinths of social life he had firsthand knowledge and wide experience of every walk of life taking from the huts of beggars to the royal palaces he imparted the knowledge and experience hereditary and so acquired through his polite language specially through his famous quatrains to enlighten the people at large.

که مونږ د نړۍ ټولو ژوو ته زير شو نو ټول ژوي که هغه په اما دي که په کما . په ټولو کښې چې انسان له کومه سته او وجود ورکړے شوے دے د هغې ټولې برخې او ټول هډونه ډېر په مکمل او غوره حالت کښې دي او ددې کار ته چې مونږ اوکسو نو د دوي کارونه هم د معجزې نه کم نۀ دي.

د انسان د ښکلې جوسې ، بشپړ وجود په حقله قرآن وائي:

" لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِیٓ اَحْسَنِ تَقْوِیْمٍ ۝(۴)"

★ Ph.D Scholar Pashto Department UOP

"بې شکه مونږ انسان په ښکلې جوسه جوړ کړے دے "[۱]

د انسان وجود د هغهٔ د سلطنت په شان دے په دې سلطنت کښې زړهٔ او مازغهٔ د بادشاه او وزير په رنګ دي او ژبه ددغه سلطنت دربان ده اوس دا په دې باندې ده چې دا د دغه سلطنت پالنه او ساتنه په کوم رنګ کوي ـ او دا درې واړه چې خپلو خپلو ګاډينو کښې په ښهٔ وقر کار کوي ـ دغه د الله منشاء او مقصد هم دے او دے پرې مکرم او محترم کېږي هم ـ په سورة بني اسرائيل کښې دي :

" وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ "

او د اٰدم زوزاد له مونږ درناوے ورکړو"[۲]

مفسرين ددې اٰيت مطلب دا ښائي چې انسان ئې د خبرو ښودلو له کبله غوره اوګڼلو ـ خبرې ور زده کول يو پېرزونه ده خو ددې خپېتونه هم ډېر زيات دي ـ

سوچ ، اراده او بيا ژبه او د لاس پښو نه کار اخستل د انسان هغه طاقتونه دي چې کله اٰدم عليه السلام د پېدائش د مرحلو نه تېر شو او مکمل جُوسې ته راغلو نو د سترګو غړېدلو سره ئې د هسک د پاسه لا اله الا الله محمد الرسول الله اوليده نو حضرت ادم عليه السلام لوے څښتن نه پوښتنه اوکړه چې دا يو خو ستا نوم دے نو دا بل څوک دے؟

"لوے څښتن ورته اووئيل چې دا به زما وروستے استاذې وي" نو د نړۍ وړومبۍ خبره (مکالمه) د دوؤ لويو ستو (ذاتونو) تر مينځه چې ډېره پاکه ، ښکلې او ډېره لنډه خو ډېره کوټلې وه ،هغه د انسان او الله تر مينځه اوشوه چې د انسان د ليدو نه پس د سوچ نه وروستو د ژبې په سر دغه کار اوکړو خوشحال خټک په دې حقله وائي :

تر سر تر پايه چې سړے ساز دے
فهم که اوکړي چې درست سره راز دے
سړے هغه ګڼه چې خپل ځان پېژني
چې بې خبر دے يو تش طراز دے"[۳]

علم په انسان باندې د لوے څښتن يوه داسې پېرزوئينه ده چې دے ئې په ټول مخلوقاتو د سر د پاسه کړو ـ د علم ښکاره کولو او خورولو د پاره په ښهٔ او بد کفر او ايمان او تيارهٔ او رڼا کښې د توپير د پاره ئې بيا ورته ژبه ورکړه ـ سورة رحمان کښې الله پاک چې انسان ته کومې پېرزوئينې ورکړې ـ قرآن وائي :

" اَلرَّحْمٰنُ ۙ﴿۱﴾ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ؕ﴿۲﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۙ﴿۳﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾ "[۴]

رحمان هغه دے چې اوښودلو ئې (تاسوته) قرآن
سړے ئې رغ کړو. بيا ئې ورته اوښودله خبره کول "

د هسک ټول تعليمات که هغه علمي دي که عملي دي. د انسان د زړۀ سره اړه لري که د دماغو سره او د لاس او پښو سره د جبرائيل عليه السلام په لاس يا نبغ په نبغه ژبې ته راغلي دي. که په صحيفو او کتابونو کښې ښکل دي، او که په زړونو کښې راسخ دي د ژبې نه ژبې ته د ژبې په لاس راغلي دي زړۀ او مازغۀ پرې وروستو کار کړے دے.

که حضرت آدم عليه السلام ؤ يا ورپسې نور پېغمبران. ټول د رښتيا وئيلو او د خپلې ژبې په کار يعني په تبليغ ډېر ښۀ پوهه وو. او د ښۀ بدو نه اړولو کار ئې په تُوره نا په ژبه کړے دے.

حضرت نوح عليه السلام خپل وران قوم ته هم نهۀ سوه کاله تبليغ په دې ژبه اوکړو هغوي چې په لاس او پښو کومې ناړامې کولې هغه دۀ په ژبه د سمولو هسه کوله.

نمرود د خدا ے دعوٰی کوونکي ته حضرت ابراهيم عليه السلام د يو خدا ے منلو بلنه په ژبه ورکړه. او دغه کار بيا د نورو پېغمبرانو هم دے. دا ټول رښتوني او د خدا ے پاک پت ساتوني وو. د حضرت اسماعيل عليه السلام دغه وصف الله په قرآن کښې داسې ستائي:

"او ياد کړه د نصيحت په طور په دې کتاب کښې
چې اسماعيل عليه السلام دے رشتونے لوظ کوونکے. او
هغه د الله استازے (رسول) او نبي دے "[۵]

ورانو قومونو چې کله هم په دې نړۍ ګډې وډې کړې دي او الله پاک هغوي ته په هغوي کښې پېغمبر ورلېږلے دے نو پېغمبر ته ئې بيا بيا دا نصيحت کړے دے چې پسته او خوږه خبره کوه. ځکه چې تراخۀ هله خواږۀ شي چې خواږۀ ور ګډ شي. د کاڼي په شان کلک زړونه د غرور او تکبر نه ډک سرونه او ګرګسونه چې د خدائې دعوٰی کوي دغه لوړ او اوچت سټونه او سرونه خوږه ژبه او خوږه خبره مات يا راټيټ کړي او برے د صبر څښتنان بيان مومي. کله چې موسٰی د فرعون مخې ته د ورتلو او خبرو کولو جوګه شو نو حکم ورته اوشو.

"ددې فرعون سره پسته خبره کوه ګورے چې دے
خبره اومني او لوے ځښتن نه اووېرېږي"[۶]

او سورة بقره کښې هم ورته حکم دے۔

"او خلقو سره ښې خبرې کوئ"[۷]

خوشحال خټک وائي:

د هر چا سره نرمي ملائمت کړه
ګوندوي چې په دا خپل کړې د چا زړونه
خپل پردي ورته د راز خبرې که کړه
د بختې دننه ښهٔ دي خپل رختونه"[۸]

که مونږ د نړۍ د هر اولس د ژوند تېرولو د وقر ته زير شو نو دې وېخ ته به اورسو چې د نړۍ يو قام هم داسې نشته چې هغوي به د ژوند تېرولو څهٔ تړلے او کوټلے ائين او دستور نهٔ لري او که مونږ خپل قام پښتون ته اوکسو نو زمونږ د ټول قام ژوند د اخلاقو اقدارو او روایاتو نه څهٔ ته چې مونږ پښتو وايو داسې تاوېږي چې په هغې کښې ژبه ساتنه په ژبه اودربدل يوه وېنا کول که هر څو په پښتو کښې پښتے ماتېږي خو پښتون دغه پت پالي۔

د پښتو ژبې د نوي دور شاعران دي که لرغوني۔ ټول په يو خلهٔ د پښتني او اسلامي اخلاقو نه خبر دي او که داسې اووايو چې ددغه اخلاقو او اقدارو سر، مينځ او وېخ ژبه ده نو تېرے به نهٔ وي۔

که پښتون سل کاله بې مالکې ډوډۍ اوخوري نو ګورے چې د خوشحال خټک په شان ستړه بيا اوومومي۔ هغه که په يو وخت کښې په ډېرو حېثيتونو او عهدو او مرتبو پاتې شوے دے نو د هغې راز دا ؤ چې هغه ددغه هر څهٔ يو شان ساتلو په راز پوهه ؤ۔ هغه وړومبے يو عام پښتون دے نو د حجرې جومات په ناسته پاسته پوهه ؤ۔ د حجرې ناستې هغهٔ ته د پت پښتو او پښتون روایاتو اقدار، دودونه دستورنه، د پښتون قام مزاج ، خوبۍ ، او خوګانې اوښودلې۔ نو د جومات ناسته هغه د خپل مذهب د هر ګوټ او ګوټ پېر سره اشنا کړو۔ که د جنګ مېدان کښې هغه د يو سپاهي په حېث تُوره اوښکلې ده نو د يو سردار مشر يا سپه سالار پوره پوره احکامات ئې په سر سترګو منلي دي۔ نو دغلته ئې

پت پښتو، پور او پېغور نۀ دے هېر کړے دے. او که د يو جرنېل او سپه سالار په حېث شخړې ته لاندې وتے دے نو د مخالف د لښکر سره سره د خپل لښکر په کمزورو او خوبيو ئې هم پوره نظر ساتلے دے. ورسره ورسره د انتقام حدود د شخړې او روغې آداب نه پورې راپورې وتے نۀ دے. د خپل وخت د پير فقير لاسونه ئې ښکل کړي دي. او د هغوي قدردانئ او د هغوي مجلس کښې د ناستې له کبله د هغوي په دعا هم رنګ بنګ دے. نو له کبله ئې دومره اوږدۀ لاسونه لرل چې د مغل نومورې صوبه دارانو امين خان او مهابت خان غوندې سرو سره ئې دوستانې وې. د هندوستان د بادشاهانو د بادشاهئ بريدونو دننه چې به کله د پښتنو يا نورو قامونو له اړخه د بغاوت اور ورته شو نو خوشحال خټک او د هغۀ قام ته به د بادشاه ضرورت شو.

په خپله خاوره د سردار په حېث د خپل قام د ډېرې لانجو کشالو وړې لوې جرګې او ننواتې به ددۀ په ډېره کښې ددۀ په لاس هوارېدې. او بيا ددۀ د لاس تړلې غوټې به چا پرانستلې شوې يا ددۀ پرانستې چا غوټه کولے شو ؟؟

د يو هوښيار حکيم او طبيب په حېث ئې که د ډېرو رنځونو درمان کولو او په لاس کښې ئې شفاء لرله نو ورسره ئې خُلۀ کښې د ګبين په شان خوږه پسته ژبه هم غړېده. نو د رنځور د لاس کتو سره او ددۀ دارو ورکولو نه مخکښې پخپله خوږه ژبه رنځور ته دوه درې خبرې داسې اوکړې چې د وجوده به ئې نيمه نيمه بلا پاستېده.

لنډه دا چې هغه په يوه ستړه سل سره ؤ. او د ژوند هر ډګرګي کښې که هغه بريالے ؤ او تل ئې بنړي وه نو د علم حکمت او متې لرلو سره سره د هغۀ ژبه کښې هم داسې څۀ وو چې هغه به ئې په يو وخت کښې په دې دومره ډېرو حېثيتونو او مرتبو پاتې شوے ؤ. هغه د ژبې په کار د هغې په بريدونو او ضرورتونو پوهه دے. د ژبې د خوږو سودونو او د ترخو د زيانونو ورته علم دے او خوشحال هم د اسلام په شان ژبه د اخلاقو سر چينه ګڼي.

د انسان د پېدائش د مقصد ، ددۀ د ښکلې جُوسې ، د الله پېژندل او بيا د زړۀ سره سره په ژبه د الله يادول او يادولو او خورولو په حقله وائي:

يو موټے خاوره زيبا صورت کا
زړۀ ئې کڅوړه د معرفت کا

ګويا ئې ژبه په خپل صفت کا
بيا ئې له خاورو سره لت پت کا"[۹]

مطلب دا دے چې انسان که ډېر ښکلے دے چې عمل ئې ښکلے دے نو دے سرۀ زر دے او که عمل ئې ښکلے نۀ دے نو خاورې ايرې دے۔
ژبه يوه داسې پېمانه ده چې د انسان ټول اخلاق و کردار او کړۀ وړۀ پرې کچ کېږي۔
سورة التين کښې دي:

" لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۟(۴) ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۟(۵) "[۱۰]

"انسان مونږ په ښکلې جوسه رغ کړو ، بيا ئې
اوغورزؤ د ښکته نه ښکته"

انسان ددې زمکې پېداوار نۀ دے ددۀ خټه که هر څو تر زمکې اخستې شوې ده خو دا آسماني مخلوق دے خو د خپل عمل دلاسه تر آسمانه زمکې ته رالتاړ کړے شو۔ بيا په زمکه ښخ شو خو ځي به هم آسمان ته۔ په دې زمکه چې ددۀ ژوند تېرولو د پاره څومره قوانين دي دا ټول اسماني دي په يو صورت کښې دي که په بل صورت کښې آسماني دي۔ انسان چې کله هم دغه قوانين پرېښي دي خپل قانون ئې جوړ او نافذ کړے دے نو آسمان ګړز ورکړے دے۔
خوشحال خټک وائي:

چې کښېني اوري فرياد ښېرې لري
د زړۀ له آه توري تيارې لري
تېر به په هر چا په وار وار راشي
اندوه دې نۀ کا آسمان پيرې لري"[۱۱]

د ژبې ارزښت په دې نړۍ منلے شوے دے۔ انسان که په ټوقه کښې هم په يو ناخوښه خبره نيولے کېږي نو په هغه نړۍ هم چې کوم د انسان عقوبت دے ستائيلے شوے دے او په هغوي رنګا رنګ پېرزوئينې شوې دي۔ هغوي به هلته هم ښۀ او د مطلب خبرې کوي خوشې کاواکې ، ټوقې ټقالې او پُوچې خبرې به هلته نۀ وي۔ قرآن وائي:

"هلته به خوشې (کاواکې) او د ګناه خبرې (تورونه
پورونه) نۀ وائي. خو جنتيان به وائي سلام سلام "[۱۲]
او دا دلته هم د ښو خلقو صفت دے. خوشحال خان خټک وائي:

همېشه اوسه خلۀ پټه لکه ناوې
چې ضرور شي هله اوکړه دوه حرفونه
تر هغو به نا معقول په جهان نۀ وي
چې همېش په خندا سپين لري غاښونه
که خبره د خندا کړې جګې جګې
هره چار تر حساب که کوه بېرونه"[۱۳]

او بل ځائے د ښۀ سړي ښۀ خوي او خوږه ژبه داسې ستائي:

اے چې خبرې کړې خوږې شيرينې
ولې دې اووتې په عمل کښې سپينې
ګفتار سُور ګل دے د انار د بوټي
کردار انار دے که تۀ ئې وينې"[۱۴]

دغه شان چې په سورة انشقاق کښې د قيامت کومه نقشه وړاندې شوې ده هغه دا ده چې ښۀ عمل کوونکو ته به عمل نامه په ښي لاس ورکړے شي. د هغوي حساب به سوکا وي. او هغوي به ډېر په خوشحالۍ خپلو خپلوانو له د حساب نه پس ورشي. او ددې په ترس کښې به بدعملو ته د هغوي عمل نامه د شا له اړخه ورکړے کېږي. او دوزخيان به د پاره د خپل عذاب نه د ويرېدو له کبله د مرګ غوښتو "چغې" وهي. قرآن وائي:

"او چاته چې د هغۀ عمل نامه د شا اړخه ورکړے
شي نو هغوئ به د مرګ مرګ چغې وهي او اور ته به
غورځولے شي "[۱۵]

خوشحال خان خټک وائي:

هغه چې عهد قول پېمان لري
پرې سلام دے دین و ایمان لري
څوک چې د دین و ایمان سامان لري
ارمان ئې کوم دے چې به ارمان لري"[۱۶]

مطلب مې دا ؤ چې جنتیان به په ژبه سلام سلام او ښې خبرې کوي او دوزخیان به بنیارې (فریاد) کوي نو دا ددې متضادو څیزونو څرګندونه به په ژبه کېږي۔ خوشحال خټک وائي:

په واک چې نهٔ لري په کام کښې ژبه
که ګونګ شي ښهٔ دے په لویه تبه
په بده ژبه ځان ځي جهان ځي
ایمان لا هم ځي واؤره طالبه"[۱۷]

چې ډېر وئیل کا په ډېره ژبه
څو ئې چې ژبه هومره ئې تبه
د باغ بلبلو وته نظر کا
په خپله ژبه د قفس طالبه"[۱۸]

ژبه د ټول وجود واکداره ده چې څهٔ دا وائي وجود ددې تابعداري کوي۔ په دې حقله د پېغمبر ﷺ وېنا ده:

"چې سحر ټول هډونه ژبې ته به ډېره خواره خلهٔ وائي چې زمونږ په حقله د لوے څښتن نه اوېرېږه ځکه چې مونږ ستا په واک کښې یُو که تهٔ سمه شې مونږ به هم سم شُو او که تهٔ کږه شوې نو مونږ به هم کاږهٔ وارهٔ کړے شو"[۱۹]

ایمان د ژبې سره تړلے دے یعنې پوخ او غوره ایمان د هغه سړي برخه ده څوک چې دروغ نهٔ وائي او سمې خبرې او روغ معاملات شړي۔ نو هغه به رو په رو د ایمان هغه ځاے (درجې) ته اورسي چرته چې به ورته کمزوري ایمان لرونکي د ښکته نه کسي۔ د قرآن وېنا ده:

"اے ایمان لرونکو! د لوے ښتن نه ویره اوکړئ.
درسته خبره کوئ ، لوے ښتن به ستاسو عملونه (کړۀ
وړۀ) هم درست کړي او تېر وتنې (گناهونه) به مو
اورژوي"[۲۰]

خوشحال خټک په دې حقله وائي چې د کوم سړي زړۀ او ژبه د يو بل ترس (خلاف) ځي د هغه سړي غمونه ډېر وي. او ددې په ترس کښې د هوښيار څوک چې ژبه په خپل واک کښې لري نو هغه به د غمونو خلاس وي د هغۀ پحقله وائي:

چې سل په زړۀ لري يوه په ژبه
هغه به پرېوځي په لويه تبه
چې زړۀ او ژبه سره يک رنگ وي
هغه به خلاص شي له معائبه"[۲۱]

هوښيار به چُست و چالاک بېدار وي
په هره چار به زر خبردار وي
ډېر به عمل لري لږې ئې خبرې
که هر زمان به ئې نظر په کار وي"[۲۲]

رښتيا وئيل د انسان د ژوند هغه شپول دے چې دے د ډېرو کشالو او سختيو نه ساتي چې کله د يو انسان وجود هر هڅه رشتيا ويني ، رشتيا وائي ، په رشتيا اودرېږي نو ضروري ده چې دے به هم د هر رنگه تېروتنې نه ځان ساتي. د هغۀ ژوند کښې به امن او سوکالي وي خدا ے پاک هم ددغه رښتوني سړي ملگري وي او ددۀ به ټول کاڼۀ کارونه سمون خوري. داسې خلقو ته قرآن صاديقين وائي. او د دوي عقوبت جنت دے. قرآن وائي:

"او چا چې سر ټيټ کړو د لوے ښتن او روستي
استاذې په مخکښې دغه کسان به د هغه چا ملگري وي په
چا چې پېرزوئنې شوې دي له لوے ښتن له اړخه. د دوي
په ملگرتيا کښې به پېغمبران ، رشتيا ويونکي او شهيدان
او نېک عمله صالحين وي "[۲۳]

او خوشحال ختک وائي:

جنت په څۀ کښې دے په خوشخويۍ کښې
دوزخ په څۀ کښې دے په بدخويۍ کښې
چې نيت ئې لوے دے خدا ئې لوے کا
کمے ئې نۀ وي په دا لويۍ کښې"[۲۴]

چې ئې رښتيا نۀ وي بل ئې اخلاص نۀ وي
هغه به هيچرې له غمه خلاص نۀ وي
دولت د دين دے که د دنيا دے
بيا به ئې نۀ مومي چې خاص الخاص نۀ وي"[۲۵]

چې ئې دروغ نۀ دي چېرې وئيلي
چاته ئې نۀ په بد وئيلي
هغه به هيچرې خواري بيا نۀ مومي
عزت دولت به ورپسې زغلي"[۲۶]

"حضرت علي رضي الله عنه وائي چې خپل زړۀ خلاص پرېږده. د ښکلې ښکلې نکتو سوچ کوه ځکه چې د ستې (وجود) په شان زړۀ هم سترے کېږي"[۲۷]

سړے چې د خُلې نه څۀ اوباسي ليکونکي ورته چمتو ناست وي او هغوي لوسي د سړي خُلې ويونکي هر ټکے ټک په ټک کښل کوي چې هر ماښام ددۀ کړۀ وړۀ په بوسخکۍ کښې خوندي کېږي او ددۀ د دغه خوندي شوي ټول هر څۀ به د عمل نامې په جوسه کښې د مرګ نه پس پل په پل دۀ ته ورکړے کېږي.

د ژبې په حقله به سړے ډېر په تازار (په خيال ، احتياط) پل ږدي. دا نه چې سړے ايمان راوړي او بيا دې په ژبه اوتې بوتې وائي. او دا ګڼي چې دے به په هغې نيولے کېږي نه. د ايمان نه پس هم که دے په ژبه دروغ وائي ټوقې مسخرې او کاواکې وائي د بريده اوتې ټوقه د انسان د پاره زياني ده او ځاے ئې اور دے.

سورة ق کښې دي:

"انسان چې د خُلې نه څۀ هم اوباسي د هغۀ په خوا
کښې څارونکي چمتو ولاړ وي او هغوي سمدست هغه
کښل کوي "۲۸

نو مورړے محدث حضرت سفیان بن عتبه رضي الله
عنه ته چا اووئیل چې ټوقه هم یو خبپت دے ۔ هغۀ ورته
اووئیل چې نه، سنت دے خو د هغه سړي د پاره چې ددې
په رَو ګودر پوهېږي او ښکلې ټوقه کولے شي "۲۹

په حدیث کښې راغلي دي:

د انسان زیات تر تېروتنې (ګناهونه) ددۀ د ژبې له
کبله دي "۳۰

خوشحال خان خټک وائي:

احمق چې اوپوښتې خپل زړۀ زبان کا
په وئیل ګډ شي وئیل شان شان کا
هر چې په زړۀ کښې څۀ نېک و بد لري
هغه به واړه ورته بیان کا"۳۱

په نړۍ کښې چې یو سړے دروند دے او هر څوک ئې د سترګو شرمېږي مخامخ نۀ شي ورتلے نو تش له دې کبله چې هغه پټه خُلۀ اوسي ـ خوشحال خټک وائي:

همېشه اوسه خُلۀ پټه لکه ناوې
چې ضرور شي هله اوکړه دوه حرفونه
درته به وایم چې په کوم توکي به دروند شې
چې د هر چا سره نۀ کړې ځوابونه"۳۲

حدیث دے:

"سړے د لوے ښتن د خوښې په ترس کښې
داسې بې رَوه بې ګودره خبره اوکړي چې هغه دے نۀ څۀ
اوګڼي نو له دې کبله به هغه اور ته لتاړ کړے شي "۳۳

خوشحال خټک وائي:

جنت د چا دے د صادقانو دے
دوزخ د چا دے د کاذبانو دے
قرآن چې لولي کذاب عذاب مومي
ثواب بې حده که قرآن خوانو دے" ۳۴

دغه شان خپله ژبه خپل لوظ سر ته رسول د ایمان د نخښو نه یو نخښه ده۔ چې کوم سړے ژبه ځائے ته نهٔ رسوي د هغهٔ ایمان ډېر مانده (کمزورے) دے۔
دا د انسان فطرت دے چې دے ژبه اوکړي نو په بله ورځ بیا ددهٔ هغه جذبات نهٔ وي کوم چې ئې د ژبې کولو په وخت وو۔ یا په دهٔ چې ازمېښت راشي یا حالات ئې په بله واړوي نو دے د ژبې سر ته رسولو په اړ د خپلې ژبې نه زر اوړېدو ته چمتو شي۔ خو اصل ژبه هغه ده چې انسان په هر قسم سختو او پستو حالاتو کښې هم خپله ژبه سر ته اورسوي سړے په دې ژبه سړے دے او هم په دې سر ته نهٔ رسولو له کبله د سترګو غورځېږي۔ خوشحال خټک وائي:

چې ګفتار کردار ئې واړه موافق سره یو رنګ شي
هله هر رنګه خبره اثر کاندي له قائله
په زېبا ګفتار دې هېڅ تقصیر اونهٔ کړو خوشحاله
که کردار دې هم زېبا وے چار به ولې وے مشکله" ۳۵

"حضرت انس وائي چې "پېغمبر علیه السلام به پخپله هره خطبه کښې دا وئیل چې څوک ژبه ځائے ته نهٔ رسوي په هغهٔ کښې یو پوټے ایمان نشته" ۳۶
"دغه شان عبدالله بن ابي الحمساء وائي چې د نبوت نه وړاندې زما د پېغمبرﷺ سره د پلورلو او پېرولو څهٔ قصه راغله۔ څهٔ خبره شوې وه او څهٔ لا پاتې وه نو ما ورسره ژبه اوکړه چې سبا به راشم خو زما نه هېر شُو۔ او تر

دریو ورځو پورې رایاد نهٔ شو په دریمه ورځ چې هغه ځائے
ته ورغلم نو پېغمبرﷺ هم هلته ناست ؤ او زما لاره ئې
څارله خو بیا هم ما ددهٔ په تندي ګونجے قدر اونهٔ لیدهٔ دا
قدر ئې اووې چې زهٔ تر دریو ورځو نه دلته ناست یم دومره
دې اوکړولم"[۳۷]

د ښهٔ مؤمنانو صفات که یو خوا ښهٔ سلوک دے ، ورکړه راکړه ده نو بل خوا په قرآن کښې چې چرته د ښهٔ سلوک او ښهٔ رویې حکم دے هلته د خوږې پستې خبرې تاکید شوے دے۔

قرآن وائي:

"یقیناً چې لوے څښتن تاسو ته حکم درکوي د انصاف اومزونه (حقونه) ورکوئ خپلو خپلوانو ته۔ (وګړي) د بې حیایۍ او بد کارونو او د لاس اوچتونو (ظلم) نه واړوئ تاسو ته وعظ درکوي له دې له پاره چې تاسو ښهٔ لاره (نصیحت) خپله کړئ۔ او خپله ژبه سر ته رسوئ کله چې تاسو (د یو بل سره) ژبه اوکړئ او پاخهٔ پاخهٔ سوګندونه که ماتوئ"[۳۸]

د ټولنې د رغاوړنې د پاره هغې کښې سوکالۍ راوستو د پاره هر چاته او بیا په تېره تېره خپلو خپلوانو ته د هغهٔ مز په لاس ورکولو تاکید شوے دے۔ بې حیائي ، بدو کارونو کښې لاس ککړ کول او ظلم زیاتے د انسان د ژوند خوارهٔ او د مخ سرهٔ کموي او دې سره سره ژبه سر ته نهٔ رسولو سره د انسان د باور او اعتبار په مرۍ غلے کېږي او دنګې فسادونه کرکې نفرتونه ترې راټوکېږي۔ خوشحال خټک هم په دې حقله وائي:

جهان که واړه سرهٔ اوبهٔ شي
دا دوه بېړۍ به ډُوبې نهٔ شي
یوه بېړۍ چې څوک رښتونے وي
بله چې اوږے په چا ماړهٔ شي"[۳۹]

د ښهٔ خویونو ښهٔ اخلاقو د تربیت او روزنې د پاره د زمکې اوسېدونکي ته د

هسک له اړخه تل تعلیمات د پېغمبرانو په خُلۀ ورکړے شوي دي. ټولو پېغمبرانو ددې تبلیغ کړے دے او بیا په تېره تېره زمونږ وروستي استاذې خو ټول ژوند د ښو اخلاقو نمونه ؤ. هغه وائي:

"زۀ د ښکلي اخلاقو د پوره (تعلیم) ښودلو د پاره
رالېږلے شوے یم"[۴۰]

سورة بقره کښې دي:

"(ښۀ هغه خلق دي) چې کله ژبه اوکړي نو ځاے ته
ئې رسوي"[۴۱]

او بل ځاے دغه خلق داسې ستائي:

"او چې خپل امانتونه او لوظ ساتي"[۴۲]

او خوشحال بابا وائي:

که ژوندون دے هم هغه دے په جهان کښې
چې یادېږي د سړي د ښو خصلت
په دوستانو تلطف کړه څو په تا شي
د دښمن سره هم ښۀ کوه خلقت"[۴۳]

ژبه ساتل ژبه په ژبه اودرېدل د انسان هغه قسارت دے چې دے لکه د یو اتل طاقتور کړي. او هر سړے بیا هغۀ ته په درنه سترګه ګوري. حضرت خواجه معین الدین چشتي وائي:

"متوکل هغه دے چې د خلقت نه ورته آزار اورسي او په خُلۀ
مانړه قدرې اونۀ کړي"[۴۴]

او هم په دې کتاب کښې وائي:

"مانده (ضعیف ترین) هغه سړے دے چې په خپله خبره اونۀ
درېږي"[۴۵]

خوشحال خټک وائي:

چې دې قول له چا اوکړو نور ئې که کړه
تل په عهد قول ټينګ وي ښۀ مېړونه
په رښتيا که دروغ وي څوګند که کړه
منافق دے چې ډېر ډېر خوري څوګندونه"[۴۶]

مرد به خپله وېنا ژغوري څو ژوندے وي
د نامرد وېنا نن شته نشته سبا"[۴۷]

**پېغمبر** ﷺ وائي:

تاسو ته پته شته چې تاسو کښې خوار او بې وزله څوک دے ؟ صحابه کرامو ورته اووئيل په مونږ کښې مفلس (خوار) هغه څوک دے چې د چا سره دينار او درهم نۀ وي.

"نبي کريم ﷺ اوفرمائيل چې زما د امت هغه سړے خوار دے چې د قيامت په ورځ به داسې راشي چې ښۀ عملونه، مونځ، روژه او زکوٰة به ورسره وي خو په داسې حال به وي چې په نړۍ کښې به ئې چاته کنځل کړي وي په چا به ئې تور پورې کړے وي د چا نه به ئې مال خوړلے وي. څوک به ئې وژلے وي. يا به ئې وچ په ناحقه وهلے وي نو چاته چې ئې کنځل کړي وي نو هغۀ له به ددۀ د ښو او ښېګړو نه برخه ورکړے شي. دغسې بل څوک به ئې وهلے وي نو پاتې ښېګړې به د هغه سړي جولۍ ته لاړې شي او که په چا ئې لاس اوچت کړے وي نو د هغې نه مخکښې که ئې لاس کښې ښۀ (اعمال) پاتې نۀ شي نو هغه مظلومانو تېر وتنه (ګناه) به ددۀ په اوږو واچولے شي او دوزخ ته به چپه کړے شي "[۴۸]

دغه شان صحيح بخاري کښې وائي:

"د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات په زالے په زالے (بد حال) د الله په نزد هغه سړے وي کوم چې نورو وګړو د هغۀ د بدو (لاس او

ژبې) نه د ځان ساتلو له کبله پرېښودے ؤ"[۴۹]

خوشحال خټک وائي:

جنګ د هاتي د مزري اسان دے
د خپلې ژبې افت لا ګران دے
چې خپله ژبه ئې خپل فرمان کړۀ
هم ئې رستم ګڼۀ هم لا لقمان دے"[۵۰]

"پښتو متل دے چې "په خوږه خُلۀ ښار خوړلے شي"[۵۱]

ترخې خبرې ټکونه، تورونه پورونه او پېغورونه زړونه ځیري ویري کړي. کرکه او فاصلې زیاتې کړي وار بې واره او کاواکې خبرې د انسان د شوده توب او کم عقل توب نخښه ده. لږې او د عقل ډکې خبرو کښې د انسان د دواړه کونو نجات دے او د مصیبت او خبېت نه ئې ساتي. الله ډېر رشتونے دے. او هغه هم په دې حقله وائي:

"د الله نه زیات رشتونے څوک دے په خبرو کښې"[۵۲]

خوشحال خټک وائي:

احمق در اوښایم که احمق ګورې
احمق ړاندۀ دي په سترګو تورې
تور ته سپین وائي سپینو ته تور وائي
په غوږونو اوري خبرې نورې"[۵۳]

لمسون او چغلي ودان کورونه او خوارۀ زړونه ورانوي په دې حقله یو حکایت دے.

"یو سړے ؤ چې مرئے ئې خرڅوو یو ځوان ورله راغے، وئیل ئې چې دا مرئے د خرڅ دے؟ هغه خاوند ئې اووې چې هو د خرڅ دے هغۀ بیا اووېل چې څۀ عېب نقصان پکښې شته او که نشته؟ خاوند ئې اووئیل چې بل هېڅ عېب نقصان پکښې نشته مګر یو عېب لري. که هغه عېب سره دې خوښ وي نو وائې خله او که نۀ وي نو پرېږده. هغه ځوان اووئیل چې هغه کوم عېب دے. تۀ ئې ماته معلوم کړه چې زۀ پرې پوهه شم، نو که لاس مې کېږي نو له عېبه به ئې ځان ساتم. خاوند ئې اووئیل چغلي خور دے. بې شانه ډېره چغلي کوي چې سړے ورته حېران پاتې شي. هغۀ وئیل چې دا هېڅ خبره نۀ ده.

سړے به ددۀ په خبره عمل نۀ کوي نور څۀ دي ـ مطلب دا دے چې قیمت ئې ورکۀ ، مرئے ئې ترې واخست کورته ئې بوتلو ـ او په زړۀ کښې ئې محکم نیت اوکړو چې ددۀ په وئیل به باور نۀ کووم ـ څۀ ورځې تېرې شوې نو هغه مرئے راغے او خاوند ته ئې اووئیل چې خبر شه بي بي دې د مرګ مصلحت کړے دے تا وژني او بل سړے په نکاح اخلي ، خاوند ئې اووئیل چې تۀ څۀ رنګه پوهه شوې ئې مرئے اووې چې زۀ پوهه شوې یم او که ستا باور نۀ کېږي نو تۀ ورته ځان اودۀ کړه چې حال درته معلوم شي چې زۀ رښتیا وایم که دروغ وایم ـ بیا ښځې له ورغے ورته ئې اووئیل چې بي بي خبر شه ـ څښتن دې تاله طلاق درکوي او بله ښځه کوي ، ښځې چې دا واورېدل ډېره خفه شوله ، دۀ ورته اووئیل چې ولې خفه کېږې ، که ستا خوښېږي نو ماله یو درې وېښتۀ ددۀ د زنې لاندې راوړه چې زۀ ئې دم کړم ، نو د څښتن به تاسره ډېره مینه پېدا شي ، هغې وئیل چې ډېره ښۀ خبره ده چې شپه شوه سړے کورته لاړ شو ځان ئې په کټ کښې اودۀ کړو او تماشه ئې کوله چې څۀ پېښېږي چې د ښځې ګمان اوشو چې دے اودۀ دے نو د وېښتو پرېکولو د پاره ورنزدې شوله چې زنې له ئې لاس ور اوړو د ځوان یقین اوشو چې ما وژني ، جوړ په تلوار پاسېدو ، تُوره ئې راواخستله او ښځه عاجزه ئې مړه کړله ـ مریې ئې دستي ورداؤ کړلو د ښځې ورونړو ته ئې اووئیل چې راشئ ستاسو خور ئې بې ګناه مړه کړله ، هغو تُورې راواخستې په تلوار راغلل او ځوان ئې مړ کړو ، دواړه عاجزان د مریي په چغلي مړۀ شول"[۵۴]

په دې حقله خوشحال خټک وائي:

که بد ویونے بد لمسونے ئې
په ځان په خپله اور لګونے ئې
که نیت دې روغ دے اندوهِ هېڅ که کړه
جهان که غم شي تۀ ښادي کړونے ئې"[۵۵]

په چاپسي پشي شا داسې خبره کول که چرې هغه ئې واؤري او زړۀ ته ئې پرې آزار اورسېږي ـ غماز او غیبت دے ـ او د ژبې ګناهونو کښې دا ډېره لویه ګناه ګڼلے شي ـ چې هر سړے ئې معمولي ګڼي ـ خوشحال خټک وائي:

نې چې واهۀ شي وائي عذاب دے
چې غېبتونه کړې مګر ثواب دے

غیبت تر زنا نه تېرے یاد پړي
نے منع شوې په کوم کتاب دے"[۵۲]

خوګانې په هر چا کښې شته انسان د خو ننه ځګ ګڼلے شي خو ددې دا مطلب نهٔ دے چې مونږ دې کښېنو او یو یو کس ته دې د هغهٔ خو او عیب په ګوته کوؤ بیا دې په حجره جومات د هغهٔ حیا اخلو. الله پاک ډېر ستّار دے هغه وائي:"چې تهٔ د یو انسان پرده اوساتې زهٔ به ستا سل عیبونه پټ کړم. چیني فلاسفر وائي کله چې یو سړے د بل خو ته یوه ګوته اوچته کړي نو څلور ئې خپل اړخ ته ولاړې شي خوشحال خان خټک هم وائي چې هغه سړے چې د زبرګۍ دعویٰ کوي او د خلقو پټې خبرې څرګندوي هغه دې د زبرګۍ دعوې نهٔ کوي.

زبرګي په تا ښائي که تهٔ ستار ئې
ستار که نهٔ ئې کله بزرګوار ئې"[۵۷]

References

1. Quraan e Pak, Surah Atteen, Ayat 4
2. Quraan e Pak, Surah Bani Israeel, Ayat,70
3. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 224, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
4. Quraan e Pak, Surah Rahman, Ayat 1,2,3,4
5. Quraan e Pak, Surah Maryam, Ayat 54
6. Quraan e Pak, Surah Twahaa, Ayat 44
7. Quraan e Pak , Surah Baqarah, Ayat 83
8. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 74, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
9. As Above, Page 108
10. Quraan e Pak, Surah Atteen, Ayat 4,5
11. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 230, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
12. Quraan e Pak , Surah Alwaqyah, Ayat 25,26
13. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 76, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
14. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 161, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
15. Quraan e Pak, Surah Inshiqaq, Ayat 10,11,12
16. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 302, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
17. As Above, Page 117
18. As Above, Page 117
19. Khutbah e Jummah, Moulana Abdul Salam Bastvi, Almakabah Salfiah Lahore, Page 550
20. Quraan e Pak, Surah Ahzaab , Ayat 70,71
21. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 198, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
22. As Above , Page 305
23. Quraan e Pak , Surah Nissa, Ayat 68
24. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 225, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
25. As Above , Page 231
26. As Above, Page 231
27. Moulana Muhammad Yousaf Islahi , Adaab e Zindagi, Naveed Hafiz Press Lahore, 2016 Islamic Publication Private Limited, Page 162
28. Quraan e Pak , Surah Q , Ayat 18

29. Sharah Shamail e Tirmizi, Moulana Muhammad Yousaf Islahi, Adaab e Zindagi, Naveed Hafiz Press, Islamic Publication Private Limited 2016, Page 126
30. Khutbaat e Jummah, Moulana Abdul Salam Bastvi Almaktabah Salfya Lahore, Page 588
31. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 86, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
32. As Above, Page 76
33. Khutbaat e Jummah, Moulana Abdul Salam Bastvi Almaktabah Salfya Lahore, Page 589
34. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 225, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
35. As Above, Page 63
36. Awsaaf Ali, Huqqooq ul Ibaad, Maktabah Imdadiah TB Hospital Road Multan, Page 223
37. As Above , Page 223
38. Quraan e Pak, Surat Unahal, Ayat 90,91
39. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 226, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
40. Quraan e Pak , Surah Alqalam, Ayat 4
41. Quraan e Pak , Surah Baqarah, Ayat 177
42. Quraan e Pak Surah Almuminoon, Ayat 8
43. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 55, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
44. Ameer Ali Khan, Qassasul Aulya, Mumtaz Academy Urdu Bazar Lahore Saal e Ishaat 2002 Page 184
45. As Above Page 184
46. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 76, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
47. Agency Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 53, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
48. Khutbah e Jummah, Moulana Abdul Salam Bastavi, Almaktabah Salfyah Lahore, Page 375
49. Saheeh Bukhari Sharif, Hazrat Abu Abdullah Muhammad Bin Ismail Bukhari, Maktabah Taameer e Insanyat Urdu Bazar Lahore, Page 370
50. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 225, University Book Agencey Khayber Bazar Peshawar KPK
51. Rohi Mataloona, editors Leonard in bar loti, Raaj Wali Shah Khattak, Interlift Foundation Peshawar, Pashto Academy Peshawar University , Page 106
52. Quran e Pak, Surah e Nissa, Ayat- 87
53. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 207, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KP
54. Molvi Ahmad, Pashto Barkha da Nasar, 11 ,12 Jumat da Para , Publisher Azmat

Brothers Peshawar City, Page 56
55. Khushal Khattak, Armghan e Khushal, Muqadima Sayed Rasool Rasa, Page 280, University Book Agency Khayber Bazar Peshawar KPK
56. As above, Page 299
57. As above, Page 212